❖❖❖

# د ایران او سعودي عربستان خپلمنځي رقابتونه

# او د ا.ا.ا. متوازن بهرنی سیاست


داکتر محمد فیصل*



**لنډیز**

پر افغانستان د پخواني شوروي له یرغل وروسته، د سیمه‌ییزو او نړیوالو هېوادونو تشویشونه راوپارېدل او په افغانستان کې نیابتي جکړو ته لاره هواره شوه. ایران او سعودي عربستان هم د سیمې له هغو هېوادونو څخه وو چې په افغانستان کې یې خپلمنځي رقابتونو او تر ډېره نیابتي مذهبي جګړو ته مخه کړه. د شوروي یرغل پر وړاندې ایران د ایران پلوه جهادي ډلو او سعودي عربستان د سعودي پلوه جهادي ډلو ملاتړ کاوه. همدا لامل دی، چې د امریکا له وتلو وروسته د ا.ا.ا. د هېواد ملي ګټو او علیا مصالحو ته په کتو د سیمه‌ییزو او نړیوالو رقابتونو له منفي اغېزو د خوندي پاتې کېدو په موخه متوازن بهرنی سیاست خپل کړ. دا مقاله په تحلیلي او تشریحي مېتود د ایران او عربستان د خپلمنځي رقابتونو، له دوی سره د ا.ا.ا. د اړیکو پر اهمیت، د اوسنیو اړیکو پر وضعیت، او د دوی پر وړاندې د متوازن بهرني سیاست په اړه بحث کوي او دې پایلې ته رسېدلې چې د ا.ا.ا. متوازن بهرنی سیاست د نورو هېوادونو په څېر له ایران او عربستان سره د اړیکو په برخه کې هم لاسته راوړنې لرلې دي او سرپرست حکومت له دغو هېوادونو سره په تعامل او مناسباتو کې توازن ساتلی دی.



**کلیدي کلمې:** اسلامي امارت، ایران، سعودي عربستان، متوازن، سیاست.


---


*د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز څېړونکی دی

**۱- سریزه**

د افغانستان اسلامي امارت له بیا ځلي واکمنېدو وروسته، د سیمې او نړۍ له ېېلابېلو هېوادونو سره د مثبت تعامل او "متوازن بهرني سیاست" مفکوره وړاندې کړې او ټینګار یې کړی چې افغانستان به هېڅکله د نورو هېوادونو په چارو کې مداخله ونه کړي او خاوره به یې هم د هېڅ هېواد پر ضد ونه کارول شي. دا ټکی د ا.ا.ا. ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد او د بهرنیو چارو سرپرست وزیر ښاغلي مولوي امیر خان متقي په خپلو بېلابېلو څرګندونو کې روښانه کړی دی. (بینا، ب ۱۴۰۱: bakhtarnews.af)

دا چې په سیمه او نړۍ کې ځینې هېوادونه خپلمنځي رقابتونه لري، چې د بېلګې په توګه د پاکستان او هند، چین او هند، ایران او عربستان، او همدا راز له روسیې او چین سره د امریکا او لوېدیځې نړۍ رقابت یادولی شو؛ دا د افغانستان د اسلامي امارت لپاره یوه ننګونه ده، چې څنګه له دغو رقابتونو ځان لرې ساتلی شي او په دې برخه کې د نړیوالو تشویشونه رفع کولی شي. په دې اړه باید په ډاګه وویل شي چې له نړیوالو سره رغند تعامل او مثبتې اړیکې د افغانستان د اسلامي امارت لپاره یو اختیار نه، بلکې یو ستراتیژیک ضرورت دی.

په دې کې شک نشته چې د امریکایانو له وتلو وروسته په سیمه او نړۍ کې د ا.ا.ا. د بهرني سیاست اړوند تشویشونه موجود دي. د بېلګې په توګه، د هندي لیکوالانو اننت کرشنن او ستینلي جوني مشترک کتاب (کمونستان او ملایان)*[1] له افغانستان څخه د متحده ایالاتو له وتلو وروسته له اسلامي امارت سره د چین د نږدې اړیکو په اړه بحث کوي. د لیکوالانو په اند، د افغانستان په راتلونکي کې د بیجنګ غالب رول د آسیا په جیو

* The Comrades AND The Mullahs: China, Afghanistan and the New Asian Geopolitics

پولیټیک کې د لوبې د بدلېدلو احتمالي پرمختګ دی، چې دا نړدېوالي د هند لپاره ډېر خطرناک دی، او ښایي ځینې پایلې له ځان سره ولري، په ځانګړې توګه په کشمیر کې. دغه لیکوالان تاکید کوي چې طالبانو انحیازي سیاست غوره کړی او دکمونستانو (چین) لمنې ته غورځېدلي دي. (کرشنن او جوني، ۲۰۲۲:صص ۲۷۷)

ایران او سعودي عربستان په سیمه کې خورا پېچلي خپلمنځي رقابتونه لري. که څه هم د دوی د رقابتونو اصل مذهبي اختلافات بلل کېدای شي، خو جیوپولیټیکي عوامل او په سیمه کې د خپلې برلاسۍ هڅې دغو اختلافاتو او رقابتونو ته لا زیاته وده ورکړې ده. ایران تل هڅه کړې چې پر خلیج حوزه خپل کنټرول زیات او د سعودي عربستان کنټرول کم رنګه کړي. له همدې امله سعودي عربستان په سیمه کې د ایران د نفوذ له پراخیدو، او د خلیج او عربي هېوادونو د مشرۍ له لاسه وتلو څخه وېره لري. د یادو رقابتونو په تسلسل، ایران او سعودي عربستان په افغانستان کې هم د خپلو سیالیو مخینه لري. د شوروي پر خلاف جهاد کې افغانستان د دواړو هېوادونو تر منځ د سیالۍ او سړې جګړې ډګر و.

له افغانستان څخه د امریکایانو له وتلو او د ا.ا.ا. له بیا ځلې واکمنۍ سره، دا فرصت رامنځته شوی چې افغانستان د ایران او سعودي عربستان پر وړاندې مثبت، بې طرفه او متوازن سیاست خپل کړي او اجازه ورنه کړي چې افغانستان هم د عراق، لبنان، سوریې او یمن په شان د مذهبي او نیابتي جګړو ډګر وګرځي. په دې مقاله کې پر دې بحث شوی چې د ایران او سعودي عربستان پر وړاندې یو متوازن بهرنی سیاست څنګه تحقق پیدا کولی شي؟ او افغانستان بیا ځلې څنګه د دوی د رقابتونو قرباني نشي؟

**۲- متوازن بهرنی سیاست**

تجربو دا ثابته کړې چې د یوه هېواد غیر متوازن بهرنی سیاست رقیبو هېوادونو ته فرصت په لاس ورکوي، چې په هغه هېواد کې مداخله او لاسوهنه وکړي او امنیتي، سیاسي

او اقتصادي تهديدونه رامنځته کړي. د سوريې او اوکراين د بهرنيو سياستونو د ناکامۍ راز په دې کې وو، چې د نړۍ د لويو قدرتونو او زبرځواکونو (روسيې، غرب او امريکا) پر وړاندې يې جانبدارانه او غير متوازن سياست غوره کړی و.

دا چې د افغانستان اسلامي امارت خپل بهرنی سياست متوازن اعلان کړی، دا په دې معنا ده چې له يوې خوا به د نړيوالو او سيمه ييزو قدرتونو ترمنځ په اړيکو کې توازن ساتي او له بلې خوا به د دغو قدرتونو ترمنځ په شخړو کې طرف نه نيسي.

د بهرنيو چارو سرپرست وزير مولوي امير خان متقي د افغانستان د اسلامي امارت بهرنی سياست په دې ټکو کې بيان کړی: «د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سياست مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی»(کاکر، ۲۰۲۲: pajhwok.com).

د بهرنيو چارو وزارت سياسي معين شير محمد عباس ستانکزی هم د ا.ا.ا. د متوازن سياست په اړه وايي: «اوس په دې شرايطو کې چې کله "متوازن بهرنی سياست" مطرح کيږي، منظور ترې د هېواد د ملي گټو د تحقق لپاره د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د دوستانه اړيکو د رامنځته کولو او د همکاريو د غوښتلو لپاره کوښښونه دي. موږ نه غواړو چې زموږ په هېواد کې د نړۍ د قدرتونو شتون او لاسوهنې ته زمينه برابره شي. ځکه دغه کار د نورو ټولو هېوادونو د حساسيت د تحريک سبب گرځي او هېواد د سيمه‌ييزو يا نړيوالو ځواکونو د سيالۍ په ميدان اړوي». هغه زياتوي: «موږ د متوازن بهرني سياست په چوکاټ کې اجازه نه ورکوو، چې روسيه، چين، امريکا، هند، پاکستان او نور هېوادونه د افغانستان په جغرافيه کې له يو بل سره سيالي وکړي. په ضمن کې به موږ له دغو ټولو هېوادونو سره مثبتې او د همکاريو پر بنسټ ولاړې اړيکې جوړې کړو. او بالاخره به متوازن بهرنی سياست د دې مخه ونيسي چې افغانستان د بهرنيو شخړو د ثقل مرکز وي» (د ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱٦۴).

دا چې د متوازن بهرني سیاست پایلې به څه وي؟ په دې اړه د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین رحمت الحق فضیل لاندې ټکو ته اشاره کړې:

ا) یو متوازن بهرنی سیاست په بهرنیو تعاملاتو کې د دښمنانو د رامنځته کیدو مخه نیسي، نو ځکه به د هېواد لپاره منفي پایلې ونه لري.

بـ) متوازن بهرنی سیاست د داخلي پراختیایي طرحو لپاره اقتصادي او امنیتي ضروري فرصتونه رامنځته کوي.

جـ) متوازن بهرنی سیاست د هېواد جغرافیه د سیمه‌ییزو او نړیوالو قدرتونو تر منځ د رقابتونو په ډګر له بدلېدو څخه ژغوري.

د) یو متوازن بهرنی سیاست تصمیم نیوونکو چارواکو ته د فرصتونو پیژندلو لپاره اړینه فضا چمتو کوي. همدارنګه ددې امکان زیاتوي چې په بهرنی سیاست کې ګواښونه په فرصتونو بدل شي. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱۶۳-۱۶۴)

په دې کې شک نشته چې متوازن سیاست د ټولو په ګټه دی؛ هم د افغانستان، هم د سیمې او هم د نړۍ. دا چې هند او پاکستان، ایران او سعودي عربستان، روسیې او چین، ټولو خپلې نمایندګۍ سفارتونه په کابل کې فعال کړي، دا په ډاګه کوي چې اسلامي امارت خپل متوازن بهرني سیاست ته متعهد دی. دا ډول سیاست کولای شي چې له یوې خوا افغانستان له نیابتي جګړو وژغوري او له بلې خوا یې د اقتصادي پرمختګ پر لور سوق کړي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست په رسمي توګه نه دی تدوین شوی، خو د مسئولینو له اعلامیو او بیانونو معلومیږي چې د ا.ا.ا. بهرنی سیاست په لاندې اصولو ولاړ دی: خپلواکي او استقلال، اقتصاد محوري، متقابل احترام، په نړیوال امنیت کې همکاري، او په نړیوال نظام کې ګډون. دا چې یاد اصول او ارزښتونه د بهرني سیاست په توازن کې کلیدي رول لوبوي، اړینه ده چې دلته پرې یو څه بحث وشي.

### ۲,۱- خپلواکي او استقلال

د افغانستان اسلامي امارت په ډاګه ويلي چې د نړۍ له ټولو هېوادونو او قدرتونو سره د اسلام په رڼا کې مثبتې اړيکې غواړي. له نړۍ سره د اسلامي امارت تعامل د «اسلام د سپېڅلي دين د احکامو» په رڼا کې دی. له اسلامي احکامو پرته د تعامل بل معيار نه مني، او د دين په معامله د نړيوالو فشارونو ته نه تسليمېږي (بينا، الف ۱۴۰۱: bakhtarnews.af). دا په دې معنا چې اسلامي امارت يو خپلواک او مستقل نظام دی، او د هېواد خپلواکي او استقلاليت ساتل يې د بهرني سياست يو مهم اصل دی.

همدې اصل ته په کتو، د اميرالمؤمنين په اختريز پيغام کې په ځرګند ډول راغلي: "د اسلامي امارت او امريکا ترمنځ د دوحې تړون شتون لري. د هغه تړون په اساس به امريکا د افغانستان په کورنيو مسائلو کې مداخله نه کوي. اوس هم ټينګار کوو چې د دوحې تړون دې بشپړ عملي شي او د فشار پر ځای دې د همکاريو په روحيه پرمختګ وشي، اسلامي امارت له خپل لوري کړې ژمنې عملي کړې او عملي کوي يې". په دغه پيغام کې وړاندې راغلي: "...د افغانستان اسلامي امارت له خپلو ټولو ګاونډيو او سيمه‌ييزو هېوادونو سره، همدا ډول له ټولو نړيوالو سره ښې او مثبتې اړيکې غواړي..." (شيخ هبت الله اخندزاده، ۱۴۴۳: ۴).

### ۲,۲- متقابل احترام (او د نورو هېوادونو په چارو کې نه لاسوهنه)

هغه هېوادونه چې خپلمنځي رقابتونه او اختلافات لري، لکه روسيه او امريکا، هند او پاکستان، ايران او سعودي عربستان، د افغانستان اسلامي امارت له يوې خوا د دوی په داخلي چارو کې لاسوهنه نه کوي او له بلې خوا هيله لري چې دوی هم د متقابل احترام پر بنسټ د افغانستان په داخلي چارو کې لاسوهنه ونه کړي.

اميرالمؤمنين د تېر کال د کوچني اختر په پيغام کې ياد اصل ته په اشارې سره ويلي:

"موږ اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه هیڅ کوم بل هېواد ته تهدید متوجه شي. له نورو هېوادونو څخه هم غواړو چې زموږ سره ورته ښه، مثبت او په متقابل درناوي ولاړ تعامل ولري" (شیخ هبت‌الله اخندزاده، ۱۴۴۳: ۴). همدارنګه د ا.ا.ا. د رئیس الوزراء مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په یوه وینا کې ویلي: "موږ د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړو او له دوی هم غوښتنه کوو چې له موږ سره خپلې متقابلې اړیکې ښې او عادي حالت ته راولي"(عزت‌الله، ۱۴۰۱: asa.gov.af).

## ۲,۳- په نړیوال امنیت کې همکاري

افغانستان چې له ۱۹۷۹ کال راهیسې په جګړه کې ښکېل دی، اوسمهال د افغانستان اسلامي امارت په سیمه کې د ثبات او سوکالۍ رامنځته کولو هر نوعه همکارۍ ته ژمن دی. له بلې خوا، د افغانستان اسلامي امارت په دې باور دی چې د سیمې هېوادونه هم مسوولیت لري چې افغانستان د نورو هېوادونو ترمنځ د سیاسي لوبو د ډګر پر ځای د اقتصادي همکاریو پر ډګر بدل کړي.

د هېواد علیا مصالحو ته په کتو، د افغانستان اسلامي امارت د متحده ایالاتو او د ناټو غړو هېوادونو ته (چې د ا.ا.ا. پر ضد یې شل کاله جګړه هم کړې) د مثبتو اړیکو لاس اوږد کړی او نړیوالو ته یې په مکرر ډول اعلان کړی چې دوی د امریکا په شمول له هیڅ هېواد سره دښمني نه لري(Amanpoor, 2022: cnn.com). د ا.ا.ا. د سیمې او نړۍ ټولو هېوادونو ته په مکرر ډول ډاډ ورکوي چې د افغانستان خاوره به د هیچا پر خلاف نه استعمالیږي، هیڅوک باید د افغانستان له خاورې او جغرافیې څخه د خطر احساس ونه کړي او د وېرې په سترګه ورته ونه ګوري. د ا.ا.ا. به هیڅ ډلې او فرد ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له حریم څخه په استفادې د بل هېواد پر خلاف سیاسي یا نظامي فعالیت وکړي.

امیرالمؤمنین د کوچني اختر په پیغام کې یاد اصل ته په اشارې سره ویلي: "امنیت د آبادۍ او ښیرازۍ لومړی شرط ګڼل کیږي د اسلامي امارت ځواکونو د خورا سترو قربانیو په ورکولو سره ډاډمن امنیت ټینګ کړی... موږ اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه هیڅ کوم بل هېواد ته تهدید متوجه شي..." (شیخ هبت‌الله اخندزاده، ۱۴۴۳: ۲). همدارنګه مولوي عبدالسلام حنفي په یوه وینا کې ویلي:" افغانستان په اسیا کې مهم ځای او رول لري، زموږ امنیت د اسیا او حتی د ټولې نړۍ لپاره د اهمیت وړ دی او که خدای مه کړه افغانستان نا امن شو، نو پر ټوله اسیا به منفي اغېزه وکړي، نو اړینه ده چې د سیمې هېوادونه له اوسني امنیت څخه حمایت وکړي او هغه غنیمت وګڼي... "(عزت‌الله، ۱۴۰۱: asa.gov.af).

د یو جنګ ځپلي او دردېلي هېواد په توګه د افغانستان ملي ګټې دا ایجابوي چې په دې حساسه مرحله کې ارام او سوله ییز واوسي. له هیڅ ګاونډي او سیمه‌ییز هېواد سره نه ټکر وکړي او نه ورسره اړیکې پرې کړي. له څو لسیزو جګړو وروسته افغانستان څو نورو لسیزو ته ضرورت لري چې پر خپلو پښو ودریږي. حقیقت دا دی چې دا هغه وخت ممکن کېدای شي چې په ملي ګټو بنا، سوله ییز او متوازن بهرنی سیاست ولرو، او د هېوادونو په خپلمنځي سیاسي او نظامي رقابتونو کې دخیل نشو.

## ۲,۴- په نړیوال نظام کې ګډون

د افغانستان اسلامي امارت د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني پر نړیوالې ټولنې د مثبت او مشروع تعامل غږ کړی. د کورنیو چارو وزیر څرګنده کړې چې د افغانستان اسلامي امارت له نړۍ سره اقتصادي او ډیپلوماتیکو اړیکو ته چمتو او لېواله دی او افغانستان به هېڅکله نورې نړۍ ته د ګواښ ادرس ونه اوسي. (بینا، ج ۱۴۰۱: bakhtarnews.af).

دا چې نړۍ اوس د یوه کلي حیثیت خپل کړی، نو که کوم ګواښونه او خطرونه وي هغه هم د ټولو ترمنځ ګډ دي. د ا.ا.ا. د دغې نړیوالې کورنۍ د یوې برخې په توګه خپلو نړیوالو دندو او مسوولیتونو ته ژمنتیا په ډاګه کړې، خو د نړیوالو متقابلې همکارۍ کولی شي یادو خطرونو ته جواب ووایي. د ا.ا.ا. په دې مورد کې د یو مسئول حکومت په توګه له نړیوالو سره لازمو همکاریو ته ژمنتیا ښودلې ده.

امیرالمؤمنین په خپل اختریز پیغام کې ویلي چې اسلامي امارت له خپلو ژمنو اخوا هم، له نړیوالې ټولنې سره همکارۍ ته چمتو دی. په دې شرط چې نړیواله ټولنه اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. په دې تړاو اعلامیه وایي: "بې له شکه چې نړۍ د یوه کلي حیثیت پیدا کړی، د هېوادونو ترمنځ تعاملات یو له بل سره تړلي دي، زموږ هېواد افغانستان د نړۍ په سوله او امن کې خپل رول لري، د همدې اړتیا پر اساس پکار ده چې نړیوال د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژني، ترڅو خپلې ټولې ستونزې د دیپلوماتیکو نورمونو او اصولو په چوکاټ کې په رسمي او مسئولانه توګه حل کړو". (شیخ هبت‌الله اخندزاده، ۱۴۴۳: ۴). له دې څخه څرګندیږي چې د افغانستان اسلامي امارت په نړیوال نظام کې ګډون او له نړیوالو سره همکارۍ ته متعهد دی او په دې اړه مسؤولانه عمل کوي. په دې کې هیڅ شک نشته چې له نړیوالو سره په مختلفو ډګرونو کې همکاري کول د نړیوال امنیت اوسولې لپاره اړینه ده.

## ۲,۵- اقتصاد محوري

کله چې د «اقتصاد محوره» بهرني سیاست په اړه خبره کېږي، دا په دې معنا وي چې په بهرني سیاست کې پر اقتصاد زیات ټینګار کېږي. د ا.ا.ا. بهرنی سیاست د اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا پر اصل ولاړه دی؛ دا ځکه چې د افغانستان جیو ایکانومیکي موقعیت

دا ایجابوي چې د منځنۍ اسیا او جنوب ختیځې اسیا تر منځ د یوې دروازې او کوریډور په حیث خپل رول ولوبوي. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱۶۴)

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین د ا.ا.ا. د اقتصاد محوره بهرني سیاست په اړه وایي:" زموږ جیو ایکانومیکي موقعیت په دې ډول دی، چې په منطقه کې اقتصادي تعاملات اړین کوي. د اقتصادي جغرافیې له نظره، افغانستان د آسیا د شمال او جنوب او د ختیځ او لویدیځ د وصل نقطه ده. ځکه نو د افغانستان په بهرني سیاست کې اقتصادي پراختیا او تحرک هم په افغانستان او هم په منطقه کې د «اقتصاد محوره» بهرني سیاست غوره کولو ته اړتیا لري. له همدې امله اسلامي امارت هڅه کوي چې په سیمه کې د دې اتصال او اقتصادي خوځښت لپاره زمینه برابره کړي". (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱۶۴)

د ا.ا.ا. د اقتصاد محوره بهرنی سیاست هېواد ته لاندې پایلې درلودلای شي:

۱. اقتصادي محوره ډیپلوماسي رامنځته کېږي.

۲. د داخلي، سیمه‌ییزو او نړیوالو اقتصادي فرصتونو پېژندنه او کارونه رامنځته کېږي.

۳. د هېواد وګړو ته د اقتصادي او شغلي فرصتونو لپاره زمینه برابرېږي.

۴. اقتصادي همکارۍ او تعاملات زیاتېږي او د افغانستان او سیمې له اقتصادي ظرفیتونو څخه د افغانستان او سیمې په پرمختګ کې ګټه اخیستل کیږي.

۵. د سیمې او افغانستان په ټرانزیټ کې به د افغانستان تاریخي ځای تثبیت شي.

۶. بهرني بازارونه به د داخلي محصولاتو پر وړاندې په ځانګړي ډول زموږ د زراعتي محصولاتو پر مخ پرانیستل شي.

۷. زموږ واردات به سیستماتیک او د کورنیو اړتیاوو پر بنسټ شي. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱۷۵)

د «اقتصاد محوره بهرني سیاست» په لړ کې د ا.ا.ا. هڅه کوي چې د نړۍ له ټولو

هېوادونو سره مثبتې او رغنده اړيکې ولري. د سيمې په کچه يې هم په اقتصادي ډګر کې د جنوبي اسيا له منځنۍ اسيا سره د نښلولو لپاره خوندي ټرانزيټي لاره برابره کړې ده، او په دې اړه د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره په جدي خبرو بوخت دی. اسلامي امارت هوډ لري چې سيمه‌ييزې اقتصادي پروژې لکه ټاپي، ټاپ، کاسا زر... او داسې نورې پروژې عملي کړي. (د ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۷۳).

### ۳- د ایران او سعودي عربستان خپلمنځي رقابتونه

د نړيوالو اړيکو په رڼا کې، کله چې د حکومتونو تر منځ ستونزې څېړل کيږي، پکار ده چې تېر تاريخ ته يې يوه کتنه وشي، دا ځکه چې د هېوادونو خپلمنځي شخړې او رقابتونه تاريخي شاليدونه لري. په دې بحث کې دې ټکي ته اشاره پکار ده، چې له لسيزو راهيسې د ايران او سعودي عربستان اړيکې پيچلې بڼه لري او دا پيچلتيا هم د يو لړ عواملو له کبله ده. د يادو هېوادونو خپلمنځي رقابتونه مذهبي، سياسي، جغرافيايي، اقتصادي او نظامي عوامل لري؛ چې په لاندې ټکو کې ورته اشاره کوو:

#### ۳,۱- مذهبي عوامل

مذهبي عوامل د دغو اړيکو په پيچلتيا کې تر ټولو زيات رول لوبوي. د ايران اسلامي جمهوريت په رأس کې شيعه مذهبي او د سعودي عربستان په رأس کې سلفيان دي. د دواړو تر منځ ډېر اختلافات شته چې کله ناکله دواړه خواوې د تکفير مرحلې ته هم رسېږي. د يادونې وړ ده چې مذهبي اختلافات د ايران له معاصر انقلاب (۱۹۷۹ ز) راوروسته زيات شول. دا چې د انقلاب په رأس کې شيعه مذهبي وو، د عربستان او ايران تر منځ مذهبي رقابت زور واخيست.

په دې مورد کې، د سعودي عربستان او ايران ترمنځ يوه مهمه شخړه په ۱۹۸۸ کال کې

وروسته له هغې چې د حج د مراسمو پر مهال د سعودي عربستان له پوليسو سره په نښتو کې سلگونه ايراني حاجيان ووژل شول، مظاهره چيانو په تهران کې د دغه هېواد پر سفارت بريد وکړ. او يو عرب ديپلومات يې وواژه. ورته شخړه په ۲۰۱٦ کال کې د سعودي شيعه عالم شيخ نمر باقر النمر د اعدام پر سر وه. شيخ نمر که څه هم د سعودي عربستان و، خو لس کاله يې په ايران کې زده کړې کړې وې او د ايران له مينه والو څخه گڼل کېده. هغه د آل سعود پر سلطنت سختې نيوکې کولې او د حکومت ضد مظاهرو په جرم څو ځله زنداني شوی و. نوموړی له څو کلونو بند وروسته اعدام شو.

د شيخ نمر د اعدام په عکس العمل کې ايراني اعتراض کوونکو په مشهد او تهران کې د سعودي عربستان قونسلگرۍ او سفارت ته اور واچاوه. که څه هم وروسته ايراني چارواکو د سعودي پر سفارت بريد وغانده، خو دې پېښې د رياض او تهران ترمنځ ترينگلو اړيکو ته سخته ضربه ورکړه. سعودي عربستان له ايران سره د اړيکو د پرې کولو اعلان وکړ او ايراني ډيپلوماټانو ته يې ۴۸ ساعته وخت ورکړ چې له رياضه ووځي. جالبه دا چې د سعودي عربستان له دې پرېکړې وروسته سوډان، بحرين، کويټ او متحده عربي اماراتو هم له ايران سره د خپلو اړيکو د ختمولو يا کمولو اعلان وکړ.

## ۳٫۲- جغرافيايي عوامل

د جغرافيايي اختلاف په مورد کې ويلی شو چې د انگرېزانو له وخت څخه د بحرين هېواد پر سر اختلاف شته دی. ايرانيان يې خپله حصه بولي او استقلال يې نه مني. بر عکس عربستان يې نه تنها يو مستقل هېواد، بلکه د جغرافيوي موقعيت له امله خپل ستراتيژيک متحد بولي. له بل پلوه، عربستان د عربي متحده اماراتو د هغه موقف کلک ملاتړ کوي چې د خليج درې گونې جزيرې (ابو موسی، لوی تنب او وړوکی تنب) خپل حق بولي، چې اوس د ايران په حوزه کې دي(الأخضري، ۲۰۱۹: ۲۰-۳۳او کرنوکر، ۱۳۹۰: ۲۲۸).

### ۳،۳- اقتصادي عوامل

په اقتصادي ډګر کې هم دواړه هېوادونه رقابت لري، د بېلګې په ډول؛ په ۲۰۱۴ز کال کې چې کله پر ایران اقتصادي بندیزونه ولګېدل، عربستان د نفتو تولیدات زیات کړل، ترڅو د نفتو نړیوال نرخونه راټیټ کړي. دې سیاست د ایران ملي اقتصاد ته شدید زیان ورساوه. (ابو جزر، ۲۰۱۴: ۲۱-۳۰)

### ۳،۴- نظامي عوامل

بل مهم عامل د سیمه‌ییز رول او د قدرت د توازن پر سر سیالي ده. همدا لامل دی، چې دواړه هېوادونه د نړیوالو زبرځواکونو ترڅنګ د درېدو هڅې کوې چې په دې برخه کې د امریکا-سعودي عربستان اړیکې او ایران-روسیې اړیکې مهم بحث دی (الجزیره، ۲۰۲۳). ایران هڅه کوي چې پر خلیج حوزه خپل کنټرول زیات او د سعودي عربستان کنټرول پیکه کړي او د قدرت کنټرول په خپل لاس کې واخلي. ایران له کلونو راهیسې د اټومي ځواک د جوړېدلو هڅې کوي او سعودي عربستان یې په کلکه مخالفت کوي او د خلیج د امنیت لپاره یې لوی ګواښ ګڼي. ایران د خپلو اټومي پروګرامونو له امله تر سختو نړیوالو بندیزونو لاندې دی، خو د نړۍ له قدرتونو سره یې د تړون په لاسلیکولو سره له دې بندیزونو لرې کېدو ته لاره پرانیستله. سعودي عربستان له دې موافقې سره مخالفت ښرګند کړ او ویې ویل چې د بندیزونو لرې کول به د سیمې په هېوادونو کې د ایران د مداخلو لپاره فرصتونه زیات کړي. (الأخضري، ۲۰۱۹: ۲۰-۳۳او کرنوکر، ۱۳۹۰: ۲۲۸)

### ۳،۵- د نفوذ د پراختیا هڅې

ایران تل هڅه کړې چې د شیعه مذهبو په سیمو کې نفوذ وکړي. لکه په لبنان، عراق، سوریه، یمن، بحرین، حتا د سعودي عربستان په ختیځ کې چې شیعه اقلیتونه پکې ژوند

کوي. همدا علت دی چې سعودي عربستان په سیمه کې د ایران د نفوذ له پراخېدو، د قدرت د توازن د ګډوډېدو او د خلیج او عربي هېوادونو د مشرۍ له لاسه ورکولو وېره لري. (ابو جزر، ۲۰۱۴: ۲۱-۳۰ او الجزیره، ۲۰۲۳)

په ټوله کې ویلی شو چې د ایران او سعودي عربستان خپلمنځي رقابتونه او سیالۍ بېلابېل عوامل لري، چې موږ یې په مذهبي، جغرافیایي، اقتصادي، سیاسي او نظامي عواملو کې رانغاړلی شو. دغو عواملو په ګډه، د ایران او سعودي عربستان اړیکې خرابې کړې.

### ۴- له ایران او سعودي عربستان سره د اړیکو اهمیت

د ایران اسلامي جمهوریت له افغانستان سره په ۹۲۵ کیلو متره اوږده پوله کې پروت ګاونډی هېواد دی. ایران له افغانستان سره مذهبي، کلتوري او ژبني مشترکات لري او دواړه هېوادونه لرغونې او نسبتاً ښې او مثبتې تاریخي اړیکې لري او افغانستان تل له ایران سره د حسنه اړیکو سیاست خپل کړی دی. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۳۵) په حسنه اړیکو ولاړ سیاست یواځې زمونږ ضرورت نه بلکه دیني وجیبه هم ده. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي:" ... **و من كان يُؤمن بالله واليوم الآخرِ، فليُكْرِمْ جارَه**،...". ژباړه: ... او څوک چې پر الله او د قیامت پر ورځ ایمان لري، د ګاونډي عزت او تکریم دې وکړي. (البخاري، ۱۴۲۲هـ: حدیث: ٦١٣٦) همدا راز د یادونې وړ ده چې موږ فعلا په ایران کې د درې ملیونو په حدودو کې کډوال لرو، چې د شوروي له اشغال وروسته تر اوسه هلته مېشت دي. دا به ډېر وخت ونیسي چې د افغانستان اسلامي امارت د دې جوګه شي چې د ټولو مهاجرینو بېرته راتګ ته لازم شرایط برابر کړي. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۳۵) له بل پلوه، افغانستان چې په اصطلاح په وچه کې راګیر* هېواد دی، او

* Landlocked

څلوېښت کلنې جګړې یې اقتصاد ته فوق العاده ضربه ورکړې، له ایران سره سوداګریزې اړیکې کولای شي د دواړو هېوادونو ترمنځ هم سیاسي باور ته لاره پرانیزي او هم د افغانستان اقتصادي ستونزې هوارې کړي. په دې برخه کې د ایران چابهار بندر د افغانستان په ګډون د منځنۍ اسیا د هېوادونو لپاره چې په وچه کې راګیر دي، آزادو اوبو ته تر ټولو نږدې لار ده. دا چې یاد بندر د افغانستان لپاره څومره اهمیت لري، په لاندې ټکو کې ورته اشاره کوو:

۱. په ټرانزیټ او سوداګرۍ کې سرعت او اسانتیا رامنځته کول: له دې بندر څخه په ګټې اخیستنې سره به زموږ سوداګر نور له هغه ستونزو څخه خلاص شي چې د کراچۍ له بندر څخه د مالونو د لېږد رالېږد په برخه کې یې درلودې.

۲. د وارداتي توکو د بیې کموالی: د چابهار بندر د ایران د بندر عباس او د پاکستان د کراچۍ بندر په پرتله د فاصلې له پلوه لنډ دی، چې د وارداتي توکو د بیې د راټیټېدو لامل کیږي.

۳. د توازن رامنځته کول: د چابهار بندر کارول د کراچۍ بندر ته د افغانستان د ټرانزیټ او سوداګریز محدودیت څخه د خلاصون یو ګام دی.

۴. د کورنیو او بهرنیو پانګونو راجلبول: د چابهار بندر په پرانیستلو سره به له منځنۍ اسیا لکه ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان او قزاقستان سره د سړک او اورګاډي له لارې وصل شي، چې افغانستان ته به د پام وړ عایدات راوړي. (رنجبر، ۱۳۹۹: ۲۱۰-۲۱۳) بل پلوه ته سعودي عربستان د اسلامي نړۍ د مرکز په توګه له پامه نشي غورځول کېدای. په دغه هېواد کې د کعبې شریفې او مدینې منورې موقعیت د اسلامي نړۍ د هر وګړي له سترو مقدساتو څخه ګڼل کیږي، او دغه هېواد ته یې ځانګړې ارزښت وربښلی دی.

د بډایه اقتصاد او بې پایه نفتي زیرمو له کبله له دغه هېواد سره ښې او ټینګې اړیکې افغانستان او نړیوالو ته خورا د اهمیت وړ دي. دا چې له لسیزو راهیسې په دغه هېواد کې سلګونه زره افغان مسافر اوسیږي، د هېواد په اقتصاد کې یې رول له پامه نشي غورځیدای. همدارنګه سعودي عربستان د افغانستان د زراعتي محصولاتو د پلور ښه مارکیټ هم کیدلی شي.

دا چې ایران او سعودي عربستان دواړه د منځني ختیځ په پلیټ فورمونو کې مطرح هېوادونه دي، د افغانستان اسلامي امارت لپاره له دوی سره مثبت تعامل او حسنه روابط یو مبرم ضرورت دی.

## ۵- له ایران او سعودي عربستان سره د ا.ا.ا. اړیکې

د افغانستان اسلامي امارت د خپل بهرني سیاست توازن په ډیره سنجیده توګه ساتي او په ډیره ځرکتیا یې تعقیبوي، دا درک کوي چې ایران او سعودي عربستان دواړه په سیمه کې مطرح هېوادونه دي، او له دوی سره مثبت او متوازن تعامل یو مبرم ضرورت دی.

په دې مورد کې، له ایران او له سعودي عربستان سره د ا.ا.ا. له بیا ځلې واکمنېدو راوروسته مثبتو او متوازنو اړیکو ته یو ځغلنده کتنه کوو:

### ۵,۱- له ایران سره اړیکې

له ګاونډیانو سره ښې اړیکې د ا.ا.ا. اساسي لومړیتوب دی. دغه مسلې ته د افغانستان اسلامي امارت په بهرني سیاست کې ځانګړې پاملرنه شوې. د ا.ا.ا. بیا ځلې واکمنېدو نه وروسته، د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په خپل لومړي رسنیز کنفرانس کې له ګاونډیانو سره د ښو اړیکو پر پاللو ټینګار وکړ. د دې تر څنګ د بهرنیو چارو سرپرست وزیر خپل لومړی سفر ګاونډي هېواد پاکستان او ایران ته سفر وکړ. له بلې خوا، د چین

جمهوریت او د منځنۍ آسیا هېوادونه هم له پامه نه دي غورځول شوي. له همدې امله، ګاونډیو هېوادونو ته لومړیتوب ورکول د افغانستان اسلامي امارت د بهرني سیاست له مهمو محورونو څخه ګڼل کېږي.

افغانستان او ایران د دوو ګاونډیو او اسلامي هېوادونو په توګه تاریخي، سیاسي، کلتوري، اقتصادي، قومي او مذهبي مشترکات لري. د ا.ا.ا. بیا ځلې واکمنېدو نه وروسته د ایران سره په نسبي ډول نږدې حسنه روابط لري چې په لاندې ټکو کې ورته ځغلنده اشاره کوو:

- په کابل کې د ایران سفارت فعال ساتل. همدارنګه په مزارشریف، هرات او ننګرهار کې د ایران قونسلګرۍ په نورمال ډول بیا فعالول.
- په تهران کې د ا.ا.ا. نوي معرفي شوي دپلوماتان منل کېدل. یاد دپلوماتان اوسمهال په تهران او مشهد کې خپلې دندې مخ ته وړي.
- ایران ته د یوه لوړپوړي پلاوي په مشرۍ د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي رسمي سفر. نوموړي د ایران د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي حسین امیر عبداللهیان، د افغانستان په چارو کې د ایران ولسمشر د ځانګړي استازي ښاغلي حسن کاظمي قمي او په کابل کې د ایران سفیر ښاغلي بهادر امینیان سره ملاقاتونه وکړل.

په یاد پلاوي کې یو شمېر لوړپوړو چارواکو هم ګډون درلود، د بېلګې په ډول د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست مولوي عبداللطیف منصور چې د ایران ولسمشر د ځانګړي له استازي ښاغلي حسن کاظمي قمي سره یې ولیدل. همدارنګه د اسلامي امارت د کډوالو چارو وزارت معین چې د ایران د کورنیو چارو له وزیر سره یې ولیدل او په ایران کې د مېشت افغان کډوالو د ستونزو پر حل یې خبرې وکړې. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۳۶)

د ا.ا.ا. لخوا، د هلمند سیند اړوند معاهدې تاییدول او پر عملي کېدو یې ټینګار کول:

د هلمند سیند د اوبو د وېش اړوند دواړو هېوادونو په ۱۹۷۳زېږدیز / ۱۳۵۱ هجري لمریز کال کې یوه معاهده لاسلیک کړه او د هلمند سیند د اوبو اړوند جنجالونو ته یې تر یوه حده د پای ټکی کېښود. په ټولیز ډول ایران او د ا.ا.ا. دواړه خواوې د معاهدې د تایید تر څنګ د هغې پر عملي کېدو ټینګار کوي. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۳۷)

## ۵,۲- له سعودي عربستان سره اړیکې

کله چې د ا.ا.ا. له ۱۹۹۶م څخه تر ۲۰۰۱م کاله پورې پر افغانستان واکمن وو، سعودي عربستان یو له هغو درېیو هېوادونو څخه و چې «د افغانستان اسلامي امارت» یې په رسمیت پیژندلی و. د ا.ا.ا. بیا ځلې واکمنۍ وروسته سعودي عربستان د امنیتي ملحوظاتو په علت په کابل کې خپل سفارت موقتا تړلی و، چې وروسته یې بېرته پرانیست. د ا.ا.ا. له بیا ځلې واکمنېدو وروسته له سعودي عربستان سره روابط مخ په ښه کېدو دي چې په لاندې ټکو کې ورته ځغلنده اشاره کوو:

- په کابل کې د سعودي عربستان د سفارت (د قونسلۍ څانګې) بیا پرانستل. د سعودي د بهرنیو چارو وزارت پر ټویټرپاڼه یوه لنډه پیغام کې راغلي چې دې څانګې د سې شنبې په ورځ (۳۰-۱۱-۲۰۲۱) افغانانو ته د بشپړو قونسلي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه په کار پیل وکړ. په تېر اګست میاشت کې پر افغانستان د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته سعودي عربستان خپل ټول دیپلوماتان له افغانستان څخه ایستلي وو(وزارة الخارجية، ۲۰۲۱).

- د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر پر ۱۷مه، د سعودي عربستان په غوښتنه او د پاکستان په کوربه توب «په افغانستان کې بشري وضعیت» تر عنوان لاندې د اسلامي همکاریو سازمان (OIC) د بهرنیو چارو وزیرانو د شورا ۱۷مه فوق العاده ناسته راوغوښتل شوه. په یاده غونډه

کې، د بهرنیو چارو وزارت سرپرست ښاغلي مولوي امیرخان متقي هم ګډون کړی و(د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱۴۷).

- په کابل کې د اسلامي همکاریو سازمان د دفتر بیا خلې پرانیستل: په پورتنۍ غونډه کې، د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر په کابل کې د اسلامي همکاریو سازمان د دفتر د بیا پرانستلو او پیاوړتیا لپاره ګټورې هڅې وکړې. په نتیجه کې د بشردوستانه مرستو د جلبولو لپاره په کابل کې د یاد سازمان دفتر پرانیستل شو او فعالیت یې شروع کړ. په افغانستان کې د اسلامي همکاریو سازمان سفیر محمد سعید العیاش زیاتوي: «د الله جل جلاله په لطف او د سعودي عربستان د پاچاهۍ په مالي مرسته دغه دفتر په افغانستان کې د اسلامي همکاریو سازمان د ماموریت د لاغښتلتیا لپاره جوړ شوی؛ څو له افغان ولس او زموږ د زړه له تلوتلو سره د مرستو رسولو په برخو کې خپلې دندې سرته ورسوي»(شینواری، ۱۴۰۱: tolonews.com) .

- کابل ته د اسلامي همکاریو سازمان د علماوو د پلاوي راتګ: د اسلامي همکاریو سازمان ځانګړي استازي دوکتور طارق علی بخیت، د اسلامي فقهې د نړیوالې اکاډمۍ (مجمع الفقه الإسلامي الدولي) رئیس قطب مصطفی سانو تر مشرۍ لاندې د علماوو یو پلاوی افغانستان ته راغی، او د ۱۴۴۳ کال د ذوالحجې له ۲۰مې نه تر ۲۵مې پورې یې د افغانستان د اسلامي امارت له لوړپوړو چارواکو سره لیدنې وکړې، او د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانیستلو، په دولتي ادارو کې د ښځو د کار کولو او د ټول ګډونه حکومت پر جوړولو یې خبرې وکړې. د یادونې وړ ده، چې مجمع الفقه الإسلامي کابل ته د بیا راتګ لپاره آمادګي ښودلې، ترڅو د یادو مسایلو په اړه نور بحثونه هم وکړي. (د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱: ۱۴۷-۱۴۸)

- افغان حاجیانو ته د حج او عمرې اجازه ورکول: د ا.ا.ا. له بیا واکمنېدو وروسته،

په لومړي ځل افغان حاجيانو وکړای شول چې د ۱۴۴۳ هجري قمري کال چې له ۱۴۰۱ هجري لمريز کال سره سمون خوري د حج فريضه ادا کړي. د ارشاد، حج او اوقافو وزارت په وينا، افغانان په نورمال ډول کولی شي چې د حج او عمرې لپاره ثبت نام وکړي، په دې هيله چې په آينده کې هم دا لړۍ ادامه پيدا کړي. (د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، ۱۴۴۴)

پورتنيو ټکو ته په کتو، ويلی شو چې له يوې خوا د افغانستان اسلامي امارت له ايران او سعودي عربستان دواړو سره نسبتا ښې اړيکې لري، او په دوه اړخيزه اړيکو کې ورسره توازن ساتلو ته ژمن دی. له بلې خوا، د يادو هېوادونو له لورې د ا.ا.ا. په ډي فيکټو* توګه په رسميت پېژندل شوی.

## ٦- په متوازن بهرني سياست کې مثالي هېواد

دا چې د نورو هېوادونو ترڅنګ له ايران او سعودي عربستان سره په اړيکو کې د توازن دوام يقيني شي، په دې برخه کې لا نورو هڅو ته اړتيا شته ده. که وغواړو چې څنګه د ايران-عربستان د خپلمنځي رقابتونو پر وړاندې يو متوازن سياست غوره کړو؟ کولی شو په دې مورد کې د عمان**۲ متوازن بهرني سياست ته يوه کتنه وکړو، او له مثبتو تجربو څخه يې استفاده وکړو.

عمان چې په جيوپوليټيک لحاظ په يوه کړکېچنه سيمه کې له سياسي او مذهبي دښمنيو او خونړيو کړکېچونو سره مخ دی، بهرنی سياست يې له نورو سيمه‌ييزو هېوادونو توپير لري. دغه هېواد له سيمه ييزو او نړيوالو قدرتونو سره د ښو اړيکو په ټينګولو سره، د

* de facto

**عمان د عربي ټاپووزمې په سويل ختيځو سواحلو کې موقعيت لري. له سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او يمن سره ځمکنۍ پوله، او له ايران او پاکستان سره ګډه سمندري پوله لري. مسقط د دغه هېواد پلازمېنه او لوی ښار دی.

عربي او غير عربي هېوادونو ترمنځ د تاوتريخوالي په کمولو کې اغېزناک ثابت شوی، او په خپلمنځي رقابتونو کې توانېدلی چې څنګه د دوی ترمنځ انډول او بیلانس رامنځته کړي. یاد هېواد یو له محدودو عربي هېوادونو څخه دی چې له ایران سره دوستانه اړیکې لري. عمان له ۱۹۷۰ز کال راهیسې، په ډېرو مواردو کې د یوه متوازن سیاست سالار پاتې شوی دی. اصلي پوښتنه دا ده چې -عمان خپلو جیو پولیتیکي عواملو ته په کتلو- څنګه خپل بهرنی سیاست متوازن ساتلی؟ او افغانستان څنګه ددوی له مثبت تجربو څخه استفاده کولی شي؟ لاندې ټکي د عمان د متوازن بهرني سیاست یو څو بېلګې دي:

**لومړی:** د ایران – عراق په جنګ (۱۹۸۰-۱۹۸۸ز) کې عمان مطلق د جنګ مخالف وو، د هېڅ طرف ملاتړ يې نه کاوه، برعکس په پټه يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوربند او مذاکراتو دوامداره کوشش وکړ، طرفین يې په مسقط کې سره کښېنول، ترڅو د اوربند په باره کې خبرې وکړې، خو متاسفانه مذاکرات کامیاب نه شول، په داسې حال کې چې عربستان او کویت په ښکاره د ایران په خلاف د عراق حمایت کاوه. د عراق-کویت په جنګ (۱۹۹۰-۹۱ ز) کې يې هم عین دریځ درلود.

**دويم:** د خلیجي همکارۍ شورا (GCC) چې د ایران-عراق له جګړې وروسته رامنځته شوه، ترڅو د خلیجي هېوادونو امنیت تضمین کړي، عمان د دې شورا له غړيتوب سره سره له ایران-عراق دواړو سره مثبت روابط درلودل. یادې شورا ته يې د عمان دریځ واضح کړی و، چې هغه پرېکړې قطعا نه مني چې په سیمه کې تشنج رامنځته کوي. عمان استدلال کاوه چې د ایران پر ضد د اتحاد جوړولو مفکوره د خلیجي هېوادو امنیتي ګټې په خطر کې اچوي. همدا لامل وو چې عمان په بحرین کې (۲۰۱۱ ز)، په سوریه کې (۲۰۱۱ ز)، همدارنګه په یمن کې (۲۰۱۵ ز) د یادې شورا د غړو هېوادونو د مشترکو نظامي

عملياتو مخالف و. د يادونې وړ ده چې عمان د يادې شورا يوازينی غړی دی چې له ۲۰۱۱ز کال نه پس هم له سوريې سره نورمالې ديپلوماتيکې اړيکې ساتې.

**درېيم:** په ۱۹۹۰ز کې د اتومي وسلو اړوند د ملګرو ملتونو او عراق په جنجال کې عمان د ملګرو ملتونو د دې طرحې مخالف و چې پر عراق نظامي يرغل وشي. همدا راز په ۲۰۰۳ز کې عمان د دې طرحې مخالف و چې امريکا په عراق نظامي يرغل وکړي، دا چې يرغل وشو، له عراق سره يې دپلوماتيک روابط پيل کړل، خو لازمه يې ګڼله چې د ماموريت له تکميل نه وروسته پکار ده چې امريکايان عراق پرېږدي، او خپل نظامي ماموريت ته د پای ټکی کېږدي.

**څلورم:** عمان له قطر سره د بايکاټ (۲۰۱۷-۲۰۲۱ ز) مخالف و، ياد بايکاټ چې د سعودي عربستان په مشرۍ رامنځته شو. د سعودي عربستان ترڅنګ، متحده عربي اماراتو، بحرين او مصر هم له قطر سره اړيکې پرې کړې او په قطر يې اقتصادي بنديزونه ولګول او خپلې هوايي او ځمکنۍ پولې يې ورسره وتړلې. عمان د بايکاټ د مخالفت سربېره له قطر سره د روابطو په عادي کولو کې مهم رول درلود. (الأخضري، ۲۰۱۹: ۳۵-۳۹)

بناء؛ په زغرده ويلی شو چې د ايران-عربستان د خپلمنځي رقابتونو په برخه کې، د عمان له مثبت تجربو رغنده ګټه اخيستل کېدای شي. په همدې کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرني سياست د موفقيت راز دی[۳*].

* په دې مورد کې بايد وويل شي چې په کلي معنی هيڅ هيواد د بل لپاره آيډيل نشي جوړېدی، البته د مثبتو سياستونو نه يې استفاده کيدی شي. کله چې د عمان بهرني سياستونه څېړو، ګورو چې په بعضې سياستونو يې نيوکې هم کيږي، د بيلګې په ډول؛ د لسيزو راهيسې پخپل هيواد کې د امريکايانو نظامي حضور منل، همدارنګه له اسرائيلو سره نږدې روابط لرل.

**۷- پایله**

په دې کې شک نشته چې د امریکایانو له وتلو وروسته په سیمه او نړۍ کې د ا.ا.ا. د بهرني سیاست اړوند تشویشونه موجود دي. د افغانستان اسلامي امارت لپاره دا یوه ننګونه ده، چې څنګه د نړیوالو دا تشویشونه رفع کولی شي. دا چې د افغانستان اسلامي امارت خپل بهرنی سیاست متوازن او بې طرفه اعلان کړی، دا ایجابوي چې اسلامي امارت به د ګاونډیانو، سیمې او نړۍ د هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې توازن ساتي او د دوی په خپلمنځي رقابتونو او شخړو کې به بې طرفه پاتې کیږي. د بېلګې په توګه د ایران-عربستان، د پاکستان-هند، او په لویه کې د روسیې، چین او لویدیځو هېوادونو خپلمنځي سیالۍ او رقابتونه.

د هېواد علیا مصالحو ته په کتو، د افغانستان اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو او د ناټو غړو هېوادونو چې د ا.ا.ا. پر ضد یې شل کاله جګړه هم کړې، د مثبتو اړیکو لاس اوږد کړی او نړیوالو ته یې په مکرر ډول اعلان کړی چې دوی د امریکا په شمول د هیڅ هېواد سره دښمني نه لري. له دې ښکاري چې اسلامي امارت پخپل بهرني سیاست کې توازن ساتلو ته متعهد دی.

د ایران اسلامي جمهوریت او د سعودي عربستان شاهي حکومت خپلمنځي رقابتونه او سیالۍ مذهبي، جغرافیایي، اقتصادي، سیاسي او نظامي ابعاد لري، او د دواړو اړیکې یې پېچلې کړې دي. د یادونې وړ ده چې د شوروي له یرغل وروسته متاسفانه افغانستان هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د سیالۍ او جګړې ډګر پاتې شوی. دا مخینه اوس ا.ا.ا. د بیا ځلې واکمنۍ وروسته، د ګاونډیو، سیمه‌ییزو او نړیوالو هېوادونو سره د ښو، فعالو او سنجیده اړیکو ساتلو ته خورا اهمیت ورکوي. دا چې ایران او سعودي عربستان دواړه د منځني ختیځ په پلیټ فورمونو کې مطرح هېوادونه دی، د افغانستان اسلامي امارت لپاره

له دوی سره مثبت تعامل او حسنه روابط لرل یو مبرم ضرورت دی او په همدې اساس یې د ایران او سعودي عربستان د خپلمنځي رقابتونو پر وړاندې مثبت، بې طرفه او متوازن سیاست خپل کړی دی.

سره له دې چې ایران او سعودي عربستان په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته خپلې اندېښنې لري، خو بیا هم له اسلامي امارت سره په ډې فیکټو توګه تعاملات لري او په افغانستان کې یې خپل سفارتونه او نمایندګۍ پرانیستې دي. دا په ډاګه کوي چې اسلامي امارت خپل متوازن بهرني سیاست ته ژمن دی، او د دوی په خپلمنځي رقابتونو کې طرف نه نیسي.

## وړاندیزونه

۱- پکار ده چې د ا.ا.ا. متوازن بهرنی سیاست دوام پیدا کړي. متوازن بهرنی سیاست د ا.ا.ا. لپاره لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله ستراتیژیک ضرورت دی.

۲- پکار ده چې متوازن بهرني سیاست ته د ملي ګټو په برخه کې د یوه لومړیتوب په سترګو وکتل شي. متوازن سیاست کولای شي چې افغانستان هم له نیابتي جګړو وژغوري او هم یې د اقتصادي پرمختګ په لوري سوق کړي. په ورته وخت کې، متوازن سیاست کولی شي د اسلامي امارت رسمیت پیژندلو ته لاره هواره کړي.

۳- دا چې افغانستان تل د نامتوازن بهرني سیاست له امله د نیابتي جګړو ډګر ګرځېدلی دی، د افغانستان اسلامي امارت که د ایران او سعودي عربستان تر منځ په اړیکو کې توازن حفظ نه کړي، بعیده نه ده چې هېواد مو د عراق، لبنان، سوریې او یمن په څېر د مذهبي جنګونو په ډګر بدل شي.

۴- د ایران-عربستان د خپلمنځي رقابتونو پر وړاندې، پکار ده چې د خلیجي هېواد عمان له مثبتو تجربو نه سالمه استفاده وشي، عمان چې په جیوپولیټیک ډول په یوه

کړکېچنه سیمه کې پروت دی، د ایران او سعودي عربستان د مذهبي، سیاسي او اقتصادي رقابتونو او دښمنیو سره مخ دی، عمان له دواړو هېوادونو سره د ښو اړیکو په ټینګولو سره د دوی ترمنځ د تاوتریخوالي په کمولو کې اغېزناک ثابت شوی، او په بهرني سیاست کې توانېدلی چې څنګه د دوی ترمنځ توازن رامنځته کړي.

۵- که د ایران اسلامي جمهوریت یا د سعودي عربستان شاهي حکومت له افغانستان د سیاست او امنیت په اړه کومې اندېښنې لري، اسلامي امارت ته پکار ده چې اندېښنو ته یې ځواب ووایي او پوره ډاډ ورکړي.

٦- دا چې د ایران او سعودي عربستان سربېره، د هېواد په ګاونډ، سیمې او نړۍ کې نور داسې هېوادونه هم شته دي، چې خورا پیچلي خپلمنځي رقابتونه لري؛ لکه پاکستان او هند، هند او چین، چین او امریکا، روسیه او امریکا، ایران او امریکا همداسې نور. د افغانستان اسلامي امارت ته پکار ده چې په خورا ځیرکتیا د دوی پر وړاندې خپل متوازن سیاست حفظ کړي.

۷- په پای کې پکار ده چې وویل شی چې د افغانستان اسلامي امارت که غواړي هېواد یې د بهرنیو لاسوهنو او نیابتي جګړو نه خوندي شي او بهرنی سیاست یې د ناکامۍ لور ته سوق نه شي، پکار ده چې د سیمې او نړۍ د رقابتونو په وړاندې بې طرفه او متوازن سیاست ته متعهد اوسي. په همدې کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرني سیاست د موفقیت راز دی.

**و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین**

**سرچينې**


۱- البخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعيل (۱۴۲۲هـ)، **الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه**، بيروت: دار طوق النجاةو

۲- شيخ الحديث مولوى هبت الله اخندزاده، (۱۴۴۳)، **د نيكمرغه كوچني اختر په مناسبت د عاليقدر امير المومنين د مباركې پيغام**،

۳- الأخضري، إيمان (۲۰۱۹)، **العلاقات الخليجيه الإيرانية على ضوء المتغيرات الإقليمية والدولية الراهنة**. رسالة جامعية لمرحلة الدكتوراه. كلية العلوم السياسية. جامعه محمد خيضر.

۴- كرنوكر، گلنار (۱۳۹۰). جدايى بحرين از ايران نفع ايران يا انگليس. **فصلنامه مطالعات تاريخى، ۳۳**، تهران: موسسه مطالعات وپژوهش هاى سياسى.

۵- د ستراتيژيكو مطالعاتو مركز (۱۴۰۱)، **د بهرنيو چارو وزارت؛ يوكلن فعاليتونه او لاسته راوړنې**، كابل: د ستراتيژيكو مطالعاتو مركز.

٦- رنجبر، بسم الله (۱۳۹۹)، اهميت بندر چابهار و گوادر براى منطقه، **سيمه‌ييز مطالعات**، كابل: د افغانستان د علومو اكاډمي.

۷- ابو جزر، فداء يوسف (۲۰۱۴)، **العلاقات الايرانية السعودية وانعكاساتها على دول الجوار العربي** ۱۹۹۷-۲۰۰۵، رسالة جامعية لمرحلة الماجستير، كلية دراسات الشرق الاوسط، جامعة الازهر-غزة.

۸- ضعيف، ملا عبد السلام (۱۳۹۰)، **د افغانستان بنسټيزې ستونزې**، كابل: مستقل خپرندويه ټولنه.

۹- Ananth, Krishnan, & Stanly, Johny, (2022). **The Comrades and the Mullahs: China, Afghanistan and the New Asian Geopolitics**. India: HarperCollins.

۱۰- الجزيره (۲۰۲۲)، **العلاقات الإيرانية السعودية في ضوء الملفات الساخنة بالمنطقة**، په آنلاين:

https://studies.aljazeera.net/ar/reports/2012/05/20125983013255262.html (15-11-2022)

۱۱- پژواک، (۲۰۲۲) په آنلاین بڼه:

https://pajhwok.com/fa/2022/01/11/mottaqi-the-foreign-policy-of-the-afghan-government-is-positive-neutral-balanced-and-economically-oriented/ (9-1-2023)

۱۲- کاکر، جاویداحمد (۲۰۲۲)، «متقي: سیمه‌ییزه همکاري د افغانستان د متوازن او اقتصادمحوره بهرني سیاست یو له مهمو محورونو دی»، **په آنلاین بڼه:**

https://pajhwok.com/ps/2022/10/13/32motaghi-the-regionalization-of-cooperation-between-afghanistan-and-afghanistan-is-balanced-economy-oriented-foreign-policy-is-one-of-the-most-important-aspects (1-11-2022)

۱۳- معمار، (۲۰۲۳) په آنلاین بڼه:

https://memaarpress.com/۳۸۵۲۷/بایگانی (5-11-2022)

۱۴- عزت الله، (۱۴۰۱)، «افغانستان او سیمه ییز اتصال فرصتونه او ننگونې تر سرلیک لاندې علمي- څېړنیز سیمینار په ارگ کې ترسره شو»، په آنلاین بڼه: (11-11-2022)
-https://asa.gov.af/ps/node/1513

Amahpoor(2022), Exclusive: Amanpour speaks with Taliban deputy leader,available at: https://edition.cnn.com/videos/world/2022/05/16/amanpour-sirajuddin-haqqani-interview-part-1-intl-vpx.cnn (10-11-2022)

۱٦- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت، (۱۴۰۱) په آنلاین بڼه:

https://www.mohia.gov.af/ps (15-11-2022)

۱۷- باختر، (۱۴۰۱) **د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیر المومنین د مبارکی پیغام**، په آنلاین بڼه:

https://www.bakhtarnews.af/د-نېکمرغه-لوی-اختر-په-مناسبت-د-عالیقدر-ا/ (1-11-2022)

۱۸- بینا، (الف ۱۴۰۱) **تعامل ما به جهان به اساس شریعت است**، په آنلاین بڼه:

https://www.bakhtarnews.af/dr/2-امیرالمومنین-حفظه-الله-تعامل-ما-با-جه/ (1-11-2022)

۱۹- بینا، (ب ۱۴۰۱ ) **سیاست متوازن خارجی راهکار ثبات در افغانستان را تضمین میکند،** په آنلاین بڼه:

https://bakhtarnews.af/dr/سیاست-متوازن-خارجی'-راهکار-ثبات-در-افغ/ (1-11-2022)

۲۰- بینا(ج ۱۴۰۱)، « د افغانستان اسلامی امارت له نړی سره اقتصادي او دیپلوماتیکو اړیکو ته چمتو او لیواله دی »، په آنلاین بڼه:

https://bakhtarnews.af/د-افغانستان-اسلامي-امارت-له-نړۍ-سره-اقت/(1-11-2022)

وزارة الخارجية، (۲۰۲۲) په آنلاین بڼه: https://twitter.com/KSAMOFA (1-11-2022)

۲۱- شینواری، نذیر (۱۴۰۱)، « په کابل کې د اسلامي همکاریو سازمان دفتر رسماً پرانیستل شو»، په آنلاین بڼه:

https://tolonews.com/pa/afghanistan-180733 (15-11-2022)